DA AFGHANISTAN BANK

**د افغانستان بانک**

**د غیر بانکي مالي مؤسساتو د څارنې لوی آمریت**

د مقرراتو او څارنې لوی مرستیالیت

د مقرراتو ستر مدیریت

**گڼه:** ۱۷۱۴۳ | **نېټه:** ۲۶/۱۱/۱۴۴۷

۱۸۸۵۹ / ۱۰۱۲۳ — ۱۸۸۶ | ۱۴۰۵/۲/۲۳

بسم الله الرحمن الرحيم

**د برېښنايي پیسو او اداینېزو مؤسسو د قدر وړ اتحادیې ته!**

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته وبعد:

**ماهیت: متحدالمال**

**موضوع:** د قوانینو او مقرراتو د رعایت او پیروی په برخه کې څارنیز ملاحظات

د ډېر درناوي وروسته؛

د دې آمریت د څارنیزو موندنو او د افغانستان د مالي راپورونو او معاملو د شننې مرکز د ملاحظاتو پر بنسټ، د برېښنايي پیسو، اداینېزو او د وړو تمویلونو مؤسسو ته په لاندې توگه هدایت ورکول کېږي:

1. د قوانینو او مقرراتو د رعایت او پیروی برخې مسؤولین اړ دي چې د داخلي کنټرول، د چارو د پیاوړتیا، ښه والي او د قانوني او مقرراتي سرغړونو د مخنیوي په موخه د پیسو وینځلو، ورانکاري او بغاوت د تمویل پر وړاندې د مبارزې او مخنیوي د کړنو مقررې د ۲۳ مادې د (۱) فقرې مطابق لازم اجراآت ترسره کړي؛
2. د برېښنايي پیسو او اداینېزو ډېري مؤسسې د خپلو حقیقي او حکمي پیریدونکو د معلوماتو د ثبت لپاره له یو واحد فورم څخه کار اخلي، حال دا چې یادې مؤسسې اړې دي چې د پیسو وینځلو او مالي جرایمو پر وړاندي د معیارونو او د یادې مقررې د مادو له مخې د حقیقي او حکمي پیریدونکو فورمونه په جلا ډول طبقه بندي او اړین معلومات په جلا توگه ثبت کړي؛
3. غیر بانکي مالي مؤسسې اړې دي چې د بهرنیو معاملو په ترسره کولو کې د تعزیراتو لېستونو د تطبیق څخه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه د پیریدونکو د پېژندنې په فورمونو کې د تعزیراتو د لېستونو د تطبیق اړوند نښې ولري؛ او
4. د پیریدونکو د پېژندنې فورمونه باید د انگلیسي ژبې تر څنگ په یوه ملي ژبه هم ترتیب او وکارول شي.

موضوع په پوره توگه تاسو ته د لازمو اجراآتو په موخه استول کیږي.

د افغانستان بانک ستاسو د لا زیاتو بریاوو غوښتونکي دی. **والسلام**

۱۴۴۷ / ۱۱ / ۲۶

صدیق‌الله خالد

**د افغانستان بانک لومړی مرستیال**

**کاپی:**

- د وړو تمویلونو مؤسسو د قدر وړ اتحادیې ته(مؤسسو ته د استولو لپاره) او
- د افغانستان د مالي راپورونو او معاملو د شننې د قدر وړ مرکز ته (د آگاهی په موخه).

د افغانستان بانک، ابن سیناوات، کابل افغانستان/ تیلیفون۲۱۰۴۱۴۶ (۲۰) ۰۰۹۳/ ایمیل: info@dab.gov.af/ ویب س
شبکه‌های اجتماعی: فیسبوک ـ د افغانستان بانک / تویټر - @AFGCentralbank / انستاگرام - lbank